مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

ورځپاڼه

هېواد

دوشنبه | ۵ / صفرالمظفر / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۹ / چنګابۍ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/20 م | خصوصي ګڼه: ۹۰ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۶۱ مه | دوره: اتمه

د کوکنارو کښت د ممنوعیت په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د فرمان د تشریح غونډه تر سره شوه

د بهرنیو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د هېواد په کچه د کوکنارو د کښت د منع په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د ۱۴۰۳مې کلنۍ فرمان د تشریح او تبیین په موخه غونډه جوړه کړه.

د بهرنیو چارو وزارت په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې په دې غونډه کې د یاد وزارت مالي او اداري مرستیال ډاکټر محمد نعیم، د دعوت او ارشاد رئیس، د وزارت کارکوونکو او یو شمېر علماوو ګډون کړی و.

د خبرپاڼې له مخې، په غونډه کې د یاد فرمان د موخو، حقوقي او تولنیزو اړخونو، نړیوالو اغېزو او د نشه‌یي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت د مبارزې پر تګلارې خبرې وشوې.

ډاکټر محمد نعیم وویل، نشه‌یي توکي یوه تولنیزه ستونزه ده او د هغې مخنیوی د تولنې د تولو غړو ګډه مسولیت دی.

نومورې ټینګار وکړ، چې هر وګړی باید د عامه پوهاوي، د دې پدیدې د پراختیا د مخنیوي او خپلې دیني او تولنیزې دندې د ادا کولو لپاره هڅه وکړي.

د هغه په وینا، د نشه‌یي توکو تر تولو ډېر زیان د تولنې خوان قشر ته رسېږي، په داسې حال کې چې خوانان د تولنې اساسي ستن ګڼل کېږي او په دې پدیده د هغوی اخته کېدل د تولنې د ودې، پرمختګ او غوړېدو پر وړاندې خنډ جوړوي . . .

۳مخ

مولوي عبدالسلام حنفي:

د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې د زندانیانو حقوق په بشپړه توګه خوندي دي

د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د تشکیلاتو او معاشونو د تنظیم کمیسیون په مشري د یوه پلاوي په ملتیا د بګرام زندان د عمومي وضعیت ارزولو ترڅنګ له زندانیانو سره خبرې کړې دي.

د ارګ د خبر پاڼې له مخې، یاد پلاوي د لیدنې پر مهال د زندان بېلابېلې برخې کتلې او د محبوسینو د ساتنې شرایط، روغتیایي خدمتونه، د خوراکي توکو وېش او د زندان د چارو د تنظیم بهیر یې له نږدې څېړلی دی.

دغه راز مولوي عبدالسلام حنفي د زندان مسولینو ته لارښوونه کړې، چې د اسلامي شریعت . . .

۳مخ

د بهرنیو چارو وزارت په لسو ولسوالیو کې د اسنادو د تصدیق خدمتونه پیلوي

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت اعلان کړی، چې د قونسلي خدمتونو د پراختیا او هېوادوالو ته د اسانتیاوو د برابرولو په موخه به د هېواد په لسو ولسوالیو کې د مصدقو اسنادو د تصدیق خدمتونه پیل کړي.

د وزارت د خبرتیا له مخې، دغه خدمتونه به د کابل په سروبي او قرهباغ، د کندهار په سپین بولدک، د هرات په شینډنډ، د بلخ په کلدار (حیرتان)، د ننګرهار په مومندرې (تورخم)، د هلمند په ګرشک، د کندز په امام صاحب، د غزني په جاغوري او د پکتیا په خمکنیو ولسوالیو کې وړاندې کېږي.

د خبرتیا له مخې، هېوادوال کولای شي د ۱۴۰۵ لمریز کال د زمري له لومړۍ نېټې څخه خپل اسناد د یادو ولسوالیو د افغان پوسټ امارتي شرکت د څانګو له لارې د بهرنیو چارو وزارت یا د دغه وزارت اړوندو ولایتي ریاستونو ته د تصدیق لپاره ولېږي.

د بهرنیو چارو وزارت ویلي، د دې خدمتونو موخه د قونسلي چارو د لا چټکتیا، د مراجعینو د تګ راتګ د کمولو او د اسنادو د تصدیق بهیر ته د لا اسانه لاسرسي برابرول دي.

د افغانستان او ازبکستان چارواکو د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا خبرې وکړې

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معین مولوي حمدالله زاهد، ازبکستان ته د خپل رسمي سفر په بهیر کې؛ د یاد هېواد د روغتیا وزارت له معین او د درملو صنعت د پراختیا اداري له رئیس عبدالله‌عزیزوف سره کتلې دي.

د افغانستان او ازبکستان چارواکو د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا او پراختیا خبرې وکړې . . .

۳مخ

مولوي عبدالکبیر:

د کډوالو موضوع د اسلامي امارت په لومړیتوب کې ده

امارت اسلامی افغانستان
وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
Islamic Emirate of Afghanistan - Ministry of Refugees and Repatriation

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر د ننګرهار ولایت له مرستیال مولوي غلام الرحمن حیدري سره وکتل.

په دې ناسته کې چې د ننګرهار د سیندزې حوزې رئیس مولوي سید فضل احد هم برخه لرله، په یاد ولایت کې د کډوالو د وضعیت او ورسره د شویو مرستو په اړه خبرې وشوې.

بناغلي مولوي غلام الرحمن حیدري وویل، چې ننګرهار ته د ورستنو شویو د ستونزو د حل لپاره کنې هڅې شوې دي او په عمري پندغالي کې د مهاجرینو لپاره ټولې اړینې اسانتیاوې چمتو شوې دي.

د بناغلي مرستیال په وینا چې د ننګرهار سمیه بیزو ادارو د بیځایه شویو او راستنېدونکو ستونزو ته د رسیدنې په موخه . . .

۳مخ

سرلیکنه

پیاوړی هوایي ځواک؛ د خوندي افغانستان ضمانت

د هر هېواد د دفاعي بنسټونو ارزښت په دې کې نغښتی وي چې خپل تجهیزات په خپله وساتي، ترمیم یې کړي او هر وخت یې د ارتیا پر مهال عملیاتو ته چمتو وساتي. د کورنیو تخنیکي کدرونو روزنه او د هغوی پر ورټیاوو تکیه د دفاعي خان‌بسیاینې مهمه نښه ده. هره هغه لاسته‌راوړنه چې د همدې هدف په لور ترسره کېږي، د هېواد د امنیتي بنسټونو د پخېدو او مسلکي کېدو څرکندونه کوي.

د دفاع وزارت خبر ورکړی چې د هوایي ځواک او هوایي دفاع قوماندانۍ اړوند یوه MI-۱۷ هلیکوپټر د دیارلس میاشتو اساسي ترمیم، تخنیکي ازموینو او ارزونو له بریالي پروسې وروسته ببرته الوتنې ته چمتو شوې ده. د وزارت په وینا، دغه هلیکوپټر د افغان انجنیرانو او تخنیکرانو په خپلو هڅو رغول شوې او یو ځل بیا به د هېواد په دفاعي مأموریتونو کې ونډه واخلي.

د دې هلیکوپټر بیا فعالېدل د افغان متخصصینو د لوړې تخنیکي ورټیا ثبوت دی. دا پرمختګ ښیي چې د هېواد هوایي امکانات په تدریجي ډول د کورنیو ظرفیتونو پر مټ رغېږي او پراخېږي. انشاءالله، که د تجهیز، روزنې او ترمیم دا بهیر همداسې دوام ومومي، افغانستان به په نږدې راتلونکې کې پرمختللې او پر خپلو امکاناتو متکي هوایي ورټیاوې ولري.

الحمدلله، نن د افغانستان هوایي امکانات د خپل ولس د امنیت، د هېواد د سرحدونو د ساتنې، د ملي حاکمیت د دفاع، د طبیعي پېښو پر مهال د ژغورنې او د بېرنیو مرستو د رسولو لپاره کارول کېږي. د دغو امکاناتو ټول تمرکز د هېواد پر ساتنه او د خلکو د امنیت پر ټینګښت دی.

په تېرو جګړو کې وضعیت بل ډول و. هغه مهال هوایي امکانات د هېواد دننه په جګړو کې هم کارېدل او د دغو عملیاتو تر ټولو درونده زیان ولس ته رسېده. الحمدلله، اوس هغه پرله پای ته رسېدلی دی. نن د هوایي امکاناتو مأموریت د افغانستان دفاع، د سرحدونو خوندي کول، د ملي حاکمیت ساتنه او د خلکو امنیت دی. همدا بدلون د دفاعي پالیسۍ د پخوالي او د ملي مسئولیت د پیاوړتیا ځرکندونه کوي.

له اقتصادي اړخه هم د هوایي تجهیزاتو کورنی ترمیم ستر اهمیت لري. دا بهیر د میلیونونو ډالرو د لګښت مخه نیسي، پر بهرنیو شرکتونو د تکیې اړتیا راکموي، د افغان انجنیرانو تجربه زیاتوي او د هېواد دفاعي ظرفیت نور هم پیاوړی کوي. هره رغول شوې الوتکه او هلیکوپټر د ملي شتمنۍ د ساتنې او د خان‌بسیا پر لور یو بل مهم ګام دی.

افغانستان نن د هوایي دفاعي ورټیاوو د پراختیا په مسیر کې روان دی. د کورنیو متخصصینو زیار، د تجهیزاتو رغول او د مسلکي کدرونو روزنه دا هیله نوره هم پیاوړې کوي چې هېواد به انشاءالله په نږدې راتلونکې کې د سیمې له هغو هېوادونو څخه وي چې د خپلو هوایي اړتیاوو د پوره کولو لپاره به تر ډېره پر خپلو امکاناتو او خپلو متخصصینو تکیه کوي.

شیخ شېر احمد حقاني:

د میدان وردګو موزیم به د مجاهدینو قربانۍ راتلونکو نسلونو ته ورپېژني

د اطلاعاتو او کلتور وزیر شیخ شېر احمد حقاني میدان وردګو ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د دغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست له بېلابېلو برخو په ځانګړي ډول د مجاهد موزیم، کتابتون، د ریاست له امریتونو او تر کار لاندې جومات څخه لیدنه کړې.

د دې لیدنې پر مهال ښاغلي شیخ شېرا‌حمد حقاني د مجاهد موزیم د جوړېدو او فعالیت ستاینه کړې او ویلي یې دي، چې دغه موزیم د هېواد د جهاد تاریخ، تاریخي ارزښتونه او د مجاهدینو قربانۍ راتلونکو نسلونو ته ورپېژني او د ملي میراثونو په ساتنه کې مهم رول لري.

د یاد ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس مولوي حبیب الله مجاهد ویلي، موزیم په محدودو امکاناتو جوړ شوی او پکې لرغوني اثار، د مجاهدینو نظامي وسایل، د قلمي نسخو ټولګه، د شهیدانو یاد ګارونه او د هغوی نومونه ساتل کېږي.

شیخ شېر احمد حقاني د تر کار لاندې د جومات ساختماني چارو او کتابتون څخه هم لیدنه کړې، چې د جومات معیاري جوړېدو . . .

۳مخ

ملا عبداللطیف منصور:

مورِ د ولس په خدمت کې یو، ځکه چې ولس تل زمورِ ملاتړ کړی

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر ملا عبداللطیف منصور، په خپل کاري دفتر کې د لوګر له یو شمېر سپین ږیرو او مخورو سره کتلي دي. باختر اطلاعاتي اژانس ته د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت . . .

۳مخ

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د معلولینو د ملاتړ په موخه نړیواله غونډه جوړه کړه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د اسلامي امارت د مسؤلینو، د لوړو زده کړو وزارت د استازو، ملي او نړیوالو بنسټونو، مؤسسو او د معلولیت لرونکو وکړو د ملاتړ کوونکو سازمانونو په ګډون، د معلولیت لرونکو کسانو د زده کړو د ملاتړ نړیواله غونډه جوړه کړه.

د دغې غونډې موخه د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د زده کړو د فرصتونو پراخول، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کیفیت لوړول او د یاد قشر د پیاوړتیا لپاره د اغېزمنو لارو چارو ارزونه او د ګډو همکاریو پیاوړتیا وه.

په دې غونډه کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري مرستیال، مولوي غلام سعید احساس، دغه غونډه د معلولیت لرونکو کسانو د ملاتړ په برخه کې یو مهم ګام وباله او ویې ویل، چې دا غونډه د ټولنې د ټولو غړو اسلامي او انساني مسؤلیتونه د یاد قشر پر وړاندې لا څرګندوي. نومورې زیاته کړه . . .

۳مخ

خوست ولایتي روغتون کې د ۴۰ میلیونه افغانیو په لګښت لس بستریزه د بېرنۍ پاملرنې (ICU) څانګه پرانیستل شوه

خوست ولایتي روغتون کې د ۴۰ میلیونه افغانیو په لګښت لس بستریزه د بېرنۍ پاملرنې (ICU) څانګه پرانیستل شوه

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني خوست ولایت ته د خپل سفر پر مهال د دغه ولایت په ولایتي روغتون کې د لس بستریزې بېرنۍ پاملرنې (ICU) څانګه پرانیسته.

یاده څانګه چې د لسو بسترو ظرفیت لري، په معیاري طبي تجهیزاتو سمبال او د روغتیایي خدمتونو د لا ښه وړاندې کولو په موخه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.د یادې څانګې د پرانیستې مراسمو کې ښاغلي مرستیال وویل . . .

۳مخ

پاکستان د توپان په منځ کې: د ستراتیژیک عمق میراث او د سیمه‌ییز نفوذ ننګونې

لیکوال: پروفیسور ډاکټر عبیدالله برهاني

د پاکستان اوسنی وضعیت د یوه واحد عامل پایله نه ده، بلکې د داخلي، سیمه‌ییزو او نړیوالو عواملو د تعامل نتیجه ده.

سریزه

پاکستان نن ورځ د یوه داسې حساس تاریخي پراو له ازمویني سره مخ دی چې امنیتي، سیاسي او اقتصادي ننګونې پکې یو له بل سره ترلې دي. د دغه هېواد روان وضعیت یوازې د اوسنیو پېښو پایله نه ده، بلکې د ځو لسیزو د ستراتیژیکو انتخابونو، سیمهییزو بدلونونو او کورنیو جوړښتي ستونزو انعکاس هم دی. پاکستان د سړې جګړې له دورې راهیسې د سیمې په امنیتي معادلو کې مهم رول لوبولی دی. د افغانستان جغرافیایي موقعیت، د هند سره تاریخي شخړې، د منځني ختیځ اړیکې او د نړیوالو قدرتونو سیالي هغه عوامل دي چې د پاکستان د بهرني او امنیتي سیاست په جوړښت کې یې مهم اغېز درلودلی دی. خو د نړیوال او سیمهییز نظم د بدلون له امله، اسلامآباد اوس له دې پوښتنې سره مخ دی چې څنګه خپل تاریخي سیاستونه د نوو واقعیتونو لپاره مخې بیا تنظیم کړي. د ستراتیژیک عمق میراث د «ستراتیژیک عمق» مفهوم د پاکستان د امنیتي فکر یوه مهمه برخه وه، په خانګړې توګه د افغانستان په اړه. د دې تګلارې موخه دا وه چې پاکستان داسې سیمهییز چاپېریال ولري چې د امنیت له نظره ورته مناسب وي او د احتمالي ګوابنونو پر وړاندې د مانور وړتیا ولري. خو د وخت په تېرېدو، یو شمېر ځېرونکي استدلال کوي چې د دې تګلارې ځینې پایلې له لومړنیو محاسبو سره توپیر درلود. اوږدمهاله جګړو، د وسلهوالو ډلو پراختیا او د سیمهییزو سیالیو دوام داسې امنیتي شرایط رامنځته کړل چې اغېزې یې د پاکستان دننه هم محسوسې شوې. د پاکستان یو شمېر سیاسي او فکري شخصیتونو هم د دې موضوع په اړه د بیاکتنې غوښتنه کړې ده. افراسیاب ختک په ځپلو ځرګندونو کې د هغو سیاستونو پر اړه اندېښنه ښودلې چې وسلهوالې ډلې د سیمهییزو اهدافو لپاره د وسیلې په توګه کاروي، او تینګار یې کړی چې اوږدمهاله ثبات د پیاوړو مدني بنسټونو او روښانه ستراتیژۍ له لارې ترلاسه کېدای شي. جنوبي پنجاب او د وسلهوالو شبکو موضوع پاکستاني ځېرونکې عایشه صدیقه په خپل مشهور کتاب Military Inc.: Inside Pakistan's Military Economy او خپلو کښو مقالو او مرکو کې د پاکستان د امنیتي جوړښتونو، سیاسي اقتصاد او ځینو وسلهوالو شبکو د رامنځته کېدو په اړه بحث کړی دی. نوموړې د جنوبي پنجاب یادونه کوي چې په تېرو لسیزو کې د ځینو وسلهوالو ډلو لپاره د جلب، تنظیم او ملاتړ یوه مهمه سیمه بلل شوې ده. هغې د «پنجابي طالبانو» اصطلاح د یوه واحد سازمان پر ځای د بېلابېلو ډلو او جریانونو دیوه پېچلي جوړښت لپاره کارولې ده. د دې موضوع مهم ټکی دا دی چې د افراطیت او وسلهوالی پدیده یوازې د یوې سیمې یا ټولنې له زاویې نه شي تحلیل کېدای؛ بلکې د سیاسي، امنیتي او ټولنیزو شرایطو مجموعه ده چې د دې ډول جریانونو د رامنځته کېدو زمینه برابروي. د پاکستان دننه د بیاکتنې غږونه په پاکستان کې د امنیتي او بهرني سیاست په اړه بحث یوازې د بهرنیو شنونکو ترمنځ محدود نه دی، بلکې د دغه هېواد دننه هم پراخ بحث پرې روان دی. پخواني سفیر حسین حقاني په خپلو لیکنو کې استدلال کړی چې د ستراتیژیکو موخو لپاره د غیر دولتي وسلهوالو لوبغاړو پر تکیې، په ځینو مواردو کې، د پاکستان پر نړیوال اعتبار او بهرنیو اړیکو اغېز کړی دی. مفکر او فزیک پوه پرویز هودبهوي بیا د دین، سیاست او دولت د اړیکو په اړه بحث کړی او شبکو د رامنځته کېدو په اړه یې اندېښنه ځرګنده کړې ده. د هغو بهیرونو په اړه یې اندېښنه ځرګنده کړې چې د افراطي فکر د پراختیا سبب کېدای شي. همدارنګه، د پاکستان یو شمېر خبریالانو او شنونکو، لکه حامد میر او نجم سیتي، د ملکي او پوځي ادارو د اړیکو موضوع هم د بحث یوه مهمه برخه ده. د جمعیت علمای اسلام مشر مولانا فضل الرحمن په ځپلو وروستیو ځرګندونو کې د سیاسي بهیر، ادارو او د واک د توازن په اړه نیوکې او اندېښنې مطرح کړې دي.

ځینې ختیځ او خلیجي هېوادونه: د نفوذ او فرصتونو ننګونه

د پاکستان اړیکې له خلیجي هېوادونو سره تاریخي او ژورې دي. د کارګرو پاکستانیانو حضور، اقتصادي اړیکې، انرژي، پانګونه او امنیتي همکاري د دې اړیکو مهم ارخونه دي. خو په منځني ختیځ کې د وروستیو کلونو بدلونونو د پاکستان لپاره نوې ننګونې رامنځته کړې دي. خلیجي هېوادونو ځپلې بهرنۍ اړیکې او اقتصادي شراکتونه متنوع کړي او اوس د پانګونې، ټکنالوژۍ، اقتصادي ثبات او اوږدمهاله ستراتیژیکو ګټو پر بنسټ پرېکړې کوي. ځینې شنونکي باور لري چې پاکستان تل نه دی توانېدلی چې د ځپلو امنیتي لومړیتوبونو، سیمهییزو اړیکو او اقتصادي ارتیاوو ترمنځ مناسب توازن رامنځته کړي. د دې له امله ستونزې، په بلوچستان کې سیاسي او امنیتي مسایل، د کشمیر موضوع، اقتصادي فشارونه او سیاسي اختلافات د هېواد پر ثبات اغېز لري. په سیاسي ډګر کې د ملکي او پوځي ادارو د اړیکو موضوع هم د بحث یوه مهمه برخه ده. د جمعیت علمای اسلام مشر مولانا فضل الرحمن په ځپلو وروستیو ځرګندونو کې د سیاسي بهیر، ادارو او د واک د توازن په اړه نیوکې او اندېښنې مطرح کړې دي.

ځینې ختیځ او خلیجي هېوادونه: د نفوذ او فرصتونو ننګونه

د پاکستان اړیکې له خلیجي هېوادونو سره تاریخي او ژورې دي. د کارګرو پاکستانیانو حضور، اقتصادي اړیکې، انرژي، پانګونه او امنیتي همکاري د دې اړیکو مهم ارخونه دي. خو په منځني ختیځ کې د وروستیو کلونو بدلونونو د پاکستان لپاره نوې ننګونې رامنځته کړې دي. خلیجي هېوادونو ځپلې بهرنۍ اړیکې او اقتصادي شراکتونه متنوع کړي او اوس د پانګونې، ټکنالوژۍ، اقتصادي ثبات او اوږدمها

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه اعمارآشپرخانه مقام وزارت دارای نمبر تشخیصه MOF/1405/NCB/W-2182 که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۷/ اسد/۱۴۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر

مکان: آدرس: پشتونستان وات-وزارت مالیه- کابل- افغانستان

منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۰۴۶

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

اعلان مجدد دعوت به داوطلبی

{ریاست شفاخانه صدری ابن سینا} ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (تهیه وپرکاری یک قلم هوای اکسیجن طبی ۱۵۰۰۰بالون سال ۱۴۰۵ تحت ریفرنس نمبر MoPH/ISCH/1405/NCB/G-01 اشتراک نموده و شرطنامه مربوط را طور رایگان از مدیریت خدمات شفاخانه صدری ابن سینا بدست آورده ، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و مراحل اجرایوی طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰ قبل از ظهر روز شنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۱۰ میباشد در اطاق کنفراس شفاخانه صدری ابن سینا واقع ناحیه ۱۵ قصبه شهر کابل جوار شرکت انکشاف ملی ارایه نمایید آفر های ناوقت رسیده وانترنتی قابل پذیرش نمی باشد .

و جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰قبل از ظهر روزشنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۱۰ در اطاق کنفرانس شفاخانه صدری ابن سینا تدویر می گردد.

د داوطلبی بیا ځلې خبرتیا

د ابن سینا صدري روغتون ریاست له ټولو واجد شرایط داوطلبانو څخه غوښتنه کوي چې د داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي (د ۱۵۰۰۰ بالونونو د طبي اکسیجن هوا برابرول او دکول د ۱۴۰۵ کال لپاره د حوالې نمبر MoPH/ISCH/1405/NCB/G-01 اړوند شرطنامه په وړیا دول د ابن سینا صدري روغتون د خدماتو مدیریت څخه ترلاسه کولی شئ، او خپلې آفرونه د شرطنامې مندرجاتو او د عقود قانون او اجرایي مرحلو سره سم، په ټرل شوي دول د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر شنبې ورځ د ۱۰/۵/۱۴۰۵ نېټې د سهار تر ۱۰ بجو پورې د ابن سینا صدري روغتون د کنفرانس اطاق کې چې د کابل ښار د ۱۵ ناحیې په قصبه کې د ملي انکشاف شرکت ترڅنګ موقعیت لري، وړاندې کړئ. ناوخته او انترنټي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفرونو د پرانیستلو غونډه به د شنبې په ورځ د ۱۰/۵/۱۴۰۵ نېټه د سهار په ۱۰ بجو د ابن سینا صدري روغتون د کنفرانس په خونه (اطاق)کې ترسره شي.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد پروژه انتقال و نصب دیوارهای استنادی کانکریتی و دروازه های زرهی!

بدینوسیله به تأسی از اصول تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا در نظر دارد، قرارداد پروژه انتقال و نصب دیوارهای استنادی کانکریتی و دروازه های زرهی در محوطه پارکینگ دارالامان را با شرکت ساختمانی و خدمات تخنیکی آب و برق پیام نایاب دارنده جواز نمبر (۷۱۶۵۲) به قیمت مجموعی مبلغ (۱،۹۹۹،۵۰۰) یک میلیون و نه صدو نود و نه هزارو پنج صد افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی پنج روز کاری طورکتبی توأم با دلایل آن به مقام محترم لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین واحکام ا.ا.ا واقع شهر نو وفق اصول تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد .

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست فواید عامه ولایت کابل به تعداد ۱۲ عراده وسایط ترانسپورتی و ماشینری را ترمیم اساسی می نماید. افراد و اشخاص می توانند الی مدت ۲۰ یوم غرض اخذ آفر به ریاست فواید عامه ولایت کابل واقع ناحیه پانزدهم قصبه جوار خانه سازی مراجعه نموده شرطنامه و آفر را اخذ نماید.۳۷۱۶

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست عمومی رادیو تلویزیون در نظر دارد تا قرار داد پروژه تدارک ۹۰ عدد بطری UPS را با نمبر تشخیصه RTA/1405/NCB/G-1355 به ارزش مبلغ ۸۶۳۱۰۰ افغانی با شرکت تجارتی خوشحال بریا عقد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض در زمینه داشته باشند می توانند خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت پنج روز تقویمی بطور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات ریاست مالی و اداری ریاست عمومی رادیو واقع سرک چهاردهم وزیر محمد اکبر خان ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد.۳۷۱۳

اطلاعیه

وزارت زراعت آبیاری و مالداری مقدار ۶ تن متر یک گندم ناخالص را از قرار فی کیلو ۴ افغانی طور مزایده به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۴ به فروش میرساند. افراد انفرادی و موسسات خصوصی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواستی شانرا از تاریخ نشر اعلان به ریاست اداری وزارت سپرده به تاریخ فوق الذکر به سیلو مرکز مراجعه نموده ۴۰۰۰ افغانی پول نقد حق الاشتراک نقدا اخذ می گردد.۳۶۹۰

اطلاعیه

د افغانستان بانک قبلا جواز شماره DAB-۱/۰۳۳۹ را به اسم شرکت صرافی و خدمات پولی رستاقیان در دکان شماره ۵۳ منزل اول سرای شهزاده ولایت کابل صادر نموه بود شرکت فوق الذکر طی درخواستی مورخ ۱۴۰۴/۴/۱۴ آقای بشیر احمد حمیدی فرزند عبدالحمید دهاتی می خواهد که مقدار ٪۲۰ سهم استحقاقی خویش را به سهمدار موجود آقای شبیر احمد مجاهد فرزند عبدالحمید دارای تذکره شماره ۵۲۷۸۶- ۱۱۰۰- ۱۳۹۸ واگذار نمایند.۳۷۰۹

اطلاعیه مفقوی

یک جلد جواز سیر موتر نوع تویوتا کرولا مادل ۲۰۱۴ به رنگ سیاه دارای نمبر پلیت ۱۵۸۷۶ دولتی مربوط اداره محترم معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۱۱

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۵ خوشحال خان به اسم عین الله فرزند محمد موسی مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۲۲

اطلاعیه مفقوی

یک جلد جواز شرکت خدمات مشورتی اداری نیبولامون واقع ناحیه پنجم خوشحال خان به اسم فهیم الله عاطف فرزند شمس الله مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۷۲۷

دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه اعمار تعمیر پولی کلینیک شهرک شیخ زاهد

شماره تشخیصیه داوطلبی : MUDH/1405/NCB/W-1536

وزارت شهر سازی و مسکن در نظر دارد تا پروژه اعمار تعمیر پولی کلینیک شهرک شیخ زاهد را به داوطلبی بسپارد.

بنآ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت به عمل می آید تا جهت اخذ شرطنامه به ریاست تدارکات این وزارت تشریف آورده و سافت شرطنامه را اخذ نماید همچنان داوطلبان می توانند به شکل آنلاین از سیستم تدارکات الکترونیکی ریاست تدارکات ملی و ویب سایت وزارت شهرسازی و مسکن دریافت نموده و بعد از خانه پری شرطنامه مطابق شرایط مندرج آن طور سربسته به تاریخ ۸ اسد ۱۴۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی و مسکن واقع در مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی ناحیه نهم شهر کابل، افغانستان ارایه نماید. آفر های نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

نوت: جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۸ اسد ۱۴۰۵ در مسجد شریف صحن وزارت شهرسازی و مسکن تدویر میگردد.

شماره		معیارات ارزیابی
1	حجم معاملات	حجم معاملات دوسال داوطلب در خلال پنج سال اخیر 121,400,000 یکصدو بیست ویک میلیون و هشتصد هزار افغانی می باشد
2	تجربه مشابه	تطبیق و اکمال یک قرارداد مشابه در ده سال اخیر 83,600,000 هشتاد و سه میلیون و ششصد هزار و یا تطبیق و اکمال دو قرارداد مشابه به ارزش 119,500,000 یکصدو نوزده میلیون و پنجصد هزار افغانی می باشد
3	سرمایه نقدی	27,000,000 بیست و هفت میلیون افغانی می باشد
4	تضمین آفر	مبلغ 2,550,000 دو میلیون و پنجصد پنجاه هزار افغانی می باشد

نوت: (۱) : پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمیشود.

(۲) : شرطنامه بصورت سافت به داوطلبان توزیع میگردد

د کوکنارو کښت . . .

همداراز مالي او اداري مرستيال د ياد فرمان پر بشپړ او اغېزمن پلي کېدو تېنګار وکړ او ويې ويل، د دغه فرمان عملي کول د ټولنې د روغتيا، امنيت، ټولنيزې هوساينې، د قانون د حاکميت د پياوړتيا او د هېواد د اعتبار د لوړولو لپاره مهم رول لري.له بلې خوا، مسولينو د کوکنارو د کښت، د نشه‌يي توکو د توليد، قاچاق او کارونې د مخنيوي په برخه کې د ياد فرمان پر اهميت او اغېزو تېنګار وکړ او هغه يې د ټولنې د روغتيا د خوندي کولو او د ټولنيزو زيانونو د مخنيوي لپاره يو مهم ګام وباله.

همدارنګه د غونډې په پاى کې له ګډونوالو وغوښتل شول، چې د عامه پوهاوي، د نشه‌يي توکو د مخنيوي او د ۳۱مې ګڼې فرمان د احکامو د عملي کېدو لپاره خپلو هڅو او همکاريو ته دوام ورکړي او خپلې دينې او ملي دندې په لا ښه توګه ترسره کړي.

د اسلامي شريعت . . .

د احکامو په رڼا کې د زندانيانو حقوق په بشپړه توګه مراعت او د اړينو اسانتياوو تامين ترڅنګ د بنديانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړي.

په ورته مهال، د زندان مسولينو پلاوي ته د محبوسينو د وضعيت، د خدماتو د وړاندې کولو او ترسره شويو اصلاحاتو په اړه معلومات وړاندې کړي او داد يې ورکړى، چې د خدمتونو د ښه والي او د شته ستونزو د حل لپاره به خپلې هڅې جاري وساتي.

د کډوالو موضوع . . .

اړينه همغږي رامنځته کړي او د امارتي ادارو سرېږره ټولې اداري د اړتيا له مخې خپلې چارې تنظيموي.د سيندېزې حوزې رئيس څرګنده کړه، چې د ننګرهار په بيلابيلو سيمو کې د راستنو شويو لپاره د پاکو اوبو د رسولو ګڼې پروژې پلي شوې دي او د پلان له مخې به دا لړۍ دوام ولري.د ناسته پر دوام ښاغلي مولوي غلام الرحمن حيدري خينې وړاندېزونه له محترم وزير سره شريک کړل.مولوي عبدالکبير د ننګرهار مرستيال او ورسره مل مسوولينو ته ښه راغلاست وويل او د هغوى د هڅو ستاينه يې وکړه.مولوي عبدالکبير وويل، چې د کډوالو موضوع د اسلامي امارت په لومړيتوب کې ده او له همدې امله ګټو ادارو ته دنده سپارل شوې، څو ارمنو ته په پر وخت خدمات وړاندې شي.د ناستې په پاى کې مولوي عبدالکبير شريکو شويو وړاندېزونو ته د رسيدنې يادونه وکړه.

خوست ولايتي . . .

ا.ا ژمن دى چې خپلو هېوادوالو ته معياري روغتيايي خدمتونه چمتو کړي او د دې موخې لپاره په راتلونکي کې هم پراخ پلانونه تر لاس لاندې لري.همدارنګه، د خوست ولايت د والي مرستيال، محبوب شاه قانت وويل: خلکو ته د روغتيايي سانتياوو برابرول د ا.ا، اساسي اصل دى او ا.ا ژمن دى چې نه يوازې په خوست، بلکې د افغانستان په ټولو ولايتونو کې روغتيايي او پراختيايي پروژې پلي کړي، ترڅو د خلکو پر وړاندې د دولت مسؤليت په ښه توګه ادا شي.د خوست ولايت د عامې روغتيا رئيس، ډاکټر اکرم محمد عکرمه وويل چې په نړۍ راتلونکي کې به په دغه ولايت کې د روغتيايي خدمتونو د ښه والي، معياري کېدو او د نورو روغتيايي مرکزونو د جوړولو لپاره نور اقدامات هم ترسره شي.

د ميدان وردګو . . .

سپارښتنه يې کړې او د کتابتون د پاتې چارو د بشپړولو لپاره يې داد ورکړى دى.

نومورې د ياد رياست مسوولينو او کارکوونکو هڅې ستايلې او سپارښتنه يې کړې، چې د فرهنګي او تاريخي ارزښتونو د ساتنې ترڅنګ، خلکو ته د اطلاعاتو د لاسرسي په برخه کې هم لا دېرې هڅې وکړي.

مورِ د ولس. . .

د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې د لوکر سپين ږيرو او مخورو، په دغه ولايت کې د بيلابيلو پراختيايي پروژو له پلي کېدو خوښې څرګنده کړې او د سړکونو په برخه کې يې يو لړ ستونزې شريکې کړې دي.دغه راز د کليو بيارغونې او پراختيا وزير ويلې دي: «مورِ د ولس په خدمت کې يو، خکه چې ولس تل زمورِ ملاتړ کړى او د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت به د خپلو امکاناتو په پام کې نيولو سره ستاسو ستونزو ته رسيدنه وکړي.»

د تخنيکي او مسلکي. . .

چې د ټولنې پرمختک، وده او پر خان بسيا کېدل د تخنيکي او مسلکي زده کړو له لارې شوني دي او د ټولنې د ټولو قشرونو، په خانګړي ډول د معلوليت لرونکو کسانو لپاره د زده کړو د زمينه برابرول، د دې اداري له اساسي لومړيتوبونو څخه دي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري مرستيال د اورېدنې او لېدنې له معلوليت لرونکو کسانو د زده کړو پر خانګړي اهميت ټينګار وکړ او څرګنده يې کړه، چې د دغو کسانو زده کړه د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري له مهمو او اساسي دندو څخه ده.هغه همدارنګه وويل، چې د اسلامي امارت د نظام خدمتونه په بېلابېلو برخو، په خانګړي ډول د تخنيکي او مسلکي زده کړو په برخه کې، په ځرګند ډول ليدل کېږي.مولوي غلام سعيد احساس د خپلو خبرو په دوام کې وويل، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري د خانګړو زده کړو مرکزونه له ۱۶ څخه ۳۶ مرکزونو ته زيات کړي دي.هغه څرګنده کړه، چې په دې سره اوس د معلوليت لرونکو کسانو ډېر شمېر ته د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ترلاسه کولو زمينه برابره شوې ده.په همدې حال کې د لوړو زده کړو وزارت استازي په دې غونډه کې د اوسنيو شرايطو له مخې د علم او پوهې پر اهميت ټينګار وکړ او تخنيکي او مسلکي زده کړې يې د ټولنې له بنسټيزو اړتياوو څخه وبللې. نومورې وويل، چې دغه زده کړې د اقتصادي ودې، د مسلکي مهارتونو د پراختيا او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو لپاره ډېر مهم رول لري.هغه همدارنګه د اورېدنې او لېدنې له معلوليت لرونکو کسانو د زده کړو پر اهميت ټينګار وکړ او ويې ويل، چې د دغو کسانو لپاره د زده کړو د مرکزونو پر زياتوالي، د خانګړو زده کړو د مرکزونو پر زياتوالي، د معلوليت لرونکو کسانو لپاره د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو د لاسرسي پر پراخولو او د غوندې د ژمنو او پرېکړو پر عملي کولو ټينګار وکړ.

د افغانستان او ازبکستان. . .

د عامې روغتيا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې دواړو لوريو د درملو، طبي تجهيزاتو، روغتيايي محصولاتو او خوړو په برخو کې د دوه اړخيزو همکاريو د پراختيا، تجربو شريکولو، د تخنيکي پوهې د لېږد، تخنيکي ظرفيتونو د لوړولو، د سوداګريزو اړيکو د پراختيا او کډو همکاريو د پياوړتيا په اړه خبرې کړې دي.

د خوړو او درملو معين د درملو، روغتيايي محصولاتو او خوړو د کيفيت ښه والي په موخه د دوه اړخيزو همکاريو د پراختيا، د تجربو شريکولو، د تخنيکي پوهې د لېږد او د تخنيکي ظرفيتونو د پياوړتيا پر اهميت ټينګار کړى دى.

د ازبکستان د روغتيا وزارت مسئولينو هم د خپل هېواد د درملو صنعت او روغتيايي محصولاتو ظرفيتونو، لاسته راوړنو او تنظيمي سيستمونو په معرفي کولو سره؛ په يادو برخو کې د افغانستان لە عامې روغتيا وزارت سره د همکارۍ چمتووالی ښودلی او د دواړو هېوادونو ترمنځ يې د همکاريو پر پياوړتيا ټينګار کړى دى.

بلخ کې د تبلو . . .

بهير له خندپرته دوام ومومي او د کورنيو ارتياوو په پوره کولو کې فعاله ونډه واخلي.

هغه زياته کړه، چې په دغه فابريکه کې څه باندې ۱۰۰ کسانو ته په مستقيم دول د کار زمينه برابره شوې او سلګونه نور کسان يې هم په غير مستقيم دول له فعاليتونو ګټه اخلي.

بلخوا، د مزارشريف يو شمېر اوسېدونکو دوامدار کډون په ټولنه کې يقيني شي.

د غونډې په پاى کې کډونوالو د کډو همکاريو پر پياوړتيا، د باکيفيته زده کړو پر پراختيا، د خانګړو زده کړو د مرکزونو پر زياتوالي، د معلوليت لرونکو کسانو لپاره د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو د لاسرسي پر پراخولو او د غونډې د ژمنو او پرېکړو پر عملي کولو ټينګار وکړ.

د افغانستان او ازبکستان. . .

د عامې روغتيا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې دواړو لوريو د درملو، طبي تجهيزاتو، روغتيايي محصولاتو او خوړو په برخو کې د دوه اړخيزو همکاريو د پراختيا، تجربو شريکولو، د تخنيکي پوهې د لېږد، تخنيکي ظرفيتونو د لوړولو، د سوداګريزو اړيکو د پراختيا او کډو همکاريو د پياوړتيا په اړه خبرې کړې دي.

د خوړو او درملو معين د درملو، روغتيايي محصولاتو او خوړو د کيفيت ښه والي په موخه د دوه اړخيزو همکاريو د پراختيا، د تجربو شريکولو، د تخنيکي پوهې د لېږد او د تخنيکي ظرفيتونو د پياوړتيا پر اهميت ټينګار کړى دى.

د ازبکستان د روغتيا وزارت مسئولينو هم د خپل هېواد د درملو صنعت او روغتيايي محصولاتو ظرفيتونو، لاسته راوړنو او تنظيمي سيستمونو په معرفي کولو سره؛ په يادو برخو کې د افغانستان لە عامې روغتيا وزارت سره د همکارۍ چمتووالی ښودلی او د دواړو هېوادونو ترمنځ يې د همکاريو پر پياوړتيا ټينګار کړى دى.

بلخ کې د تبلو . . .

بهير له خندپرته دوام ومومي او د کورنيو ارتياوو په پوره کولو کې فعاله ونډه واخلي.

هغه زياته کړه، چې په دغه فابريکه کې څه باندې ۱۰۰ کسانو ته په مستقيم دول د کار زمينه برابره شوې او سلګونه نور کسان يې هم په غير مستقيم دول له فعاليتونو ګټه اخلي.

بلخوا، د مزارشريف يو شمېر اوسېدونکو د تبلو او ګازو د بيو وروستيو لوړو په اړه اندېښنه څرګنده کړې او له حکومت څخه يې غوښتي، چې په هېواد کې د نورو تصفيه خونو د جوړېدو لپاره هم زمينه برابره کړي، څو د کورني توليد له لارې د بازار ارتياوې پوره او د بيو د لوړېدو مخه ونيول شي.

د يادونې وړ ده، چې دا مهال په بلخ ولايت کې له لسو دېرې د تبلو او ګازو تصفيه خونې فعاليت لري او د خامو تبلو د تصفيې له لارې د کورني بازار د ارتياوو يوه برخه برابروي.

په سمنګان کې . . .

دره‌صوف پايين او خُلم ولسوالیو کې موقعيت لري. دغه ځمکې د کمپسيون د تأکل شوي پلاوي له لوري تر ارزوني وروسته د کمپسيون د پرېکړې پر بنسټ تثبيت شوې دي.

د معلوماتو له مخې، له ټولې تثبيت شوې ځمکې څخه درې ميليونه، ۳۳۰ زره او ۱۲۶ جريبه لا هم د عامه ځرځای په ښه پاتې ده؛ خو ۳۷۸ زره او ۵۳۸ جريبه يې خپله طبيعي ښه له لاسه ورکړې او د خلکو له لوري په للمي او اوبه لرونکو کرنيزو ځمکو، استوګنيزو کورونو، عامه تأسيساتو او نورو استفادو بدله شوې ده.عدليې وزارت ټينګار کړى، چې د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد قانون د ۱۳مې مادې له مخې، پر عامه ځرځايونو هر دول تېرى، په کرنيزو ځمکو يې بدلول، د استوګنې کورونو جوړول او نور غيرقانوني تصرفات منع دي.

د وزارت په وينا، د مرعى د سروې او تشخيص پلاوي ته دنده سپارل شوې، څو د هغو ځرځايونو لپاره، چې له طبيعي حالت څخه وتلي، د قانون له مخې مناسبې حل لارې وموميِ.

عدليې وزارت زياتوي، چې ياد پلاوى د هېواد په نورو ولايتونو کې هم د عامه ځرځايونو د سروې او ارزونې چارې پر مخ وړي او د ارزونې تر بشپړېدو وروسته به تثبيت شوې ځمکې د ځمکو په بانک کې ثبت شي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: مایار
د ویبپاڼې مدیر : کل ولي افغانیار
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکیت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایی بڼه

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٦.٠٠ افغانی
یو یورو	٧٥.١٠ افغانی
یو پونډ	٨٦.٤٠ افغانی
یو درهم	١٧.٩٧ افغانی
زر ریال	٠٣٥.٠٣٤ افغانی
زر کلداري	٢٣٠.٢٢٩ افغانی
زر کلداري	٧٦٠.٧٥٠ افغانی

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی
٠٤:٤٠	٣٦°C	٣٩°C	٤٦°C	٤٤°C	٤٧°C	٤٨°C	٣٤°C

٠٧:٠٨

بلخ کې د تېلو یوه تصفیه خونه هره ورځ ۶۰۰ ټنه تېل تصفیه کوي

د بلخ ولایت د «افغان یاسني ایل» د تېلو د تصفیې فابریکې مسوولین وایي، دغه فابریکه چې د ۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پانګونه جوړه شوې، هره ورځ له ۶۰۰ ټنو ډېر د قشقري او زمردسای خام تېل تصفیه او کورني بازار ته وړاندې کوي.

د یادې فابریکې رئیس سهراب صمدي باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې په دې تصفیه‌خونه کې د معیاري او پرمختللو ماشینونو په وسیله پترول، ډیزل او مازوت تولیدېږي او د هېواد د کورني بازار د اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول لري.

د نومورې په وینا، سره له دې چې په نړیوالو بازارونو کې د تېلو او ګازو بیې لوړې شوې دي، خو فابریکې هڅه کړې چې د تولید . . .

۳مخ

بهرني لنډ خبرونه

د غزې په بېلابېلو سیمو کې د اسراییلي رژیم په بریدونو کې نهه فلسطینیان شهیدان شوي

اسوشیټډ پرس د غزې د روغتیایي چارواکو په حواله راپور ورکړی، چې تېره ورځ د غزې ټرانګې په بېلابېلو سیمو کې د اسراییلي رژیم د بریدونو له املې لړ تر لړه نهه فلسطینیان شهیدان شوي، چې دري ماشومان هم پکې شامل دي. د راپور له مخې، د غزې د نصر په سیمه کې د اسراییلي رژیم په یوه هوایي برید کې یو استوګنیز کور په نښه شوی، چې له املې یې پنځه کسان شهیدان او شپږ نور ټپیان شوي دي. همدا راز، د الزیتون په سیمه کې د اسراییلي رژیم په بل برید کې څلور فلسطینیان شهیدان او یو بل ټپي شوی دی.

د جګړې دوام؛ امریکا او ایران پر یو بل د تازه بریدونو خبر ورکړی

امریکا وایي، پر ایران د بریدونو په اتمه ورځ یې د دغه هېواد ساحلي ځارنیز او هوایي دفاعي تاسیسات، سمندري وړتیاوې او د توغندیو او بې‌پیلوټه الوتکو زېرمې په نښه کړې دي. بلخوا، د ایران پوځ وایي چې د امریکا د پوځ د العدیري کمپ د مهماتو زېرمه او د کویټ په علي‌السالم اډه کې یې پاټریوټ او هوایي رادارونه په نښه کړي دي.

د امریکا مرکزي قوماندانۍ (سنټکام) په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د ایران پر ضد یې د بریدونو نوی پراو د امریکا د ختیځ ساحلي ځارنیز او هوایي دفاعي تاسیساتو، سمندري وړتیاوې او د توغندیو او بې پیلوټه الوتکو زېرمې په نښه کړې دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، امریکایي خواکونو د سپاه پاسداران هغه مرکزونه هم په نښه کړي چې د سنټکام په وینا، د جولای د ۱۷مې نېټې پر مهال په اردن کې پر امریکایي خواکونو په بریدونو کې یې رول درلود. سنټکام زیاته کړې . . .

۲مخ

اوکراین:

د روسیې په تازه بریدونو کې مرګ ژوبله اوښتې ده

روسیې د تېرې شپې په ترڅ کې پر اوکراین مرکوني بریدونه کړي چې پکې استوګنیزې سیمې په نښه شوي. اوکراین بیا وایي چې د تور سمندرګي په سیمه کې یې د بې پیلوټه الوتکو بریدونو ۱۲ روسي کښتۍ په نښه کړې دي. د اوکراین چارواکو په بریدونو کې لږ تر لږه شپږ کسان وژل شوي او ۲۰ نور ټپیان شوي دي.

د اوکراین په جنوب کې پروت په بندري ښار اودېسا کې دوه کسان وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي. د سیمې د پوځي ادارې مشر اولېه کیپر وویل، په ټپیانو کې یوه ښځه . . .

۲مخ

د عدلیې وزارت:

په سمنګان کې څه باندې ۳.۷ میلیونه جریبه عامه څړځای تثبیت شو

د عدلیې وزارت وایي، د خمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شویو خمکو د استرداد کمیسیون په سمنګان ولایت کې له پراخې ارزونې وروسته څه باندې درې میلیونه، ۷۰۸ زره او ۶۶۵ جریبه عامه څړځای (مرعی) تثبیت او د خمکو په بانک کې ثبت کړی دی.د وزارت په وینا، یاد عامه څړځایونه د سمنګان ولایت په مرکز ایبک ښار، حضرت سلطان، خرم او سارباغ، فیروز نخچیر، روی دوآب، دره‌صوف بالا . . .

۳مخ

د ننګرهار کې بزګرانو ته د ناروغیو مخنیوي او د کروندو د ښه مدیریت په اړه روزنیز پروګرام ترسره شو

د ننګرهار د کرنې، اوبو لګولو او مالداری ریاست اړوند د ګوشتې ولسوالی د ترویج مدیریت کارکوونکو د ولسوالی په بېلابېلو کلیو کې بزګرانو او بنوالو ته د کرنیزو ناروغیو د مخنیوي، د کروندو د اغېزمن مدیریت او د حاصلاتو د کیفیت د لوړولو په موخه روزنیز پروګرامونه ترسره کړل.

په دغو روزنو کې کډونوالو ته د کروندو د منظمې اوبولګوني، د کیمیاوي او عضوي سرو د مناسب استعمال، د هرزه وانبو د کنټرول، نرمکاری، د کورنیو درملو د جوړولو او د نباتي ناروغیو د څرګندېدو پر مهال د کیمیاوي درملو د خوندي او پر وخت استعمال په اړه عملي او نظري معلومات وړاندې شول.

همدارنګه بزګرانو ته د سبو د اصلاح شویو تخمونو د کرلو، د اوبولګونې د سمو لارو چارو، د ناروغیو د مخنیوي، د حاصلاتو د راټولولو، درجه‌بندی، بسته‌بندی، بازارموندنې او نورو اړوندو کرنیزو موضوعاتو په اړه هم هر اړخیزې لارښوونې وشوې.

د دې روزنیز پروګرام موخه د بزګرانو د مسلکي وړتیاوو لوړول، د کرنیزو

ناروغیو او افتونو کمول، د باکیفیته او روغتیایي محصولاتو تولید، د بازار غوښتنو ته ځواب ویل او د بزګرانو اقتصادي پیاوړتیا او پر خان بسیاینې ته زمینه . . .

۲مخ

د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) د جګړه‌ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ څخه نړدې ۱۰۰ منسوبین فارغ شول

د دفاع وزارت وایي، د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) د جګړه‌ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ اړوند د جګړه‌ییزو ځواکونو له ښوونځي څخه ۹۵ تنه خوان منسوبین د BM-۲۱ (چهل‌میلي دستګاه) په برخه کې له څلور میاشتنیو مسلکي زده کړو وروسته فارغ شول.د وزارت په وینا، د فراغت مراسم د یادې قوماندانۍ د درستیزوال، مولوي شیراحمد محمدیاو یو شمېر نورو مسولینو په شتون کې ترسره شول.مسؤلینو فارغان ته د وینا پر مهال ټینګار وکړ، چې یوازې په ترلاسه کړو زده کړو بسنه ونه کړي، بلکې د عصري ټکنالوژۍ، وسلو او تجهیزاتو د کارونې په برخه کې خپلې مسلکي وړتیاوې لا پیاوړې

کړي.د دوی په وینا، موخه یې د داسې قوي، منظم او مسلکي ځواک روزل دي، چې د هېواد له خمکنۍ بشپړتیا، اسلامي نظام او ملي ارزښتونو څخه په اغېزمنه توګه ساتنه وکړي.په پای کې، فارغانو د هېواد د خمکنۍ بشپړتیا، اسلامي ارزښتونو او نوامیسو د دفاع او ساتنې لپاره خپل بشپړ چمتووالی څرګند کړ.

هلمند کې د نړدې ۲۰۰ میلیونو افغانیو په لګښت د یوې پروژې چارې پیل شوې

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالي د اذان ناوې په سیمه کې د هلمند پر سیند د ۱۸۰ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه ستر پل د جوړولو چارې پیل شوې. دغه پروژه د ټولګټو چارو وزارت له پرمختیایي بودیجې څخه تمویلېږي او ټاکل شوې چې د دوو کلونو په موده کې به بشپړه شي. د یادې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې د هلمند د ټولګټو چارو رئیس ملا عبدالخالق حاجي خالد، د کجکي او سنګین ولسوالانو، د اړوندو ادارو مسوولینو، علماوو، قومي مشرانو او د سیمې کنډ شمېر اوسېدونکو

کډون کړی و. د هلمند د ټولګټو چارو ریاست د کار او ساختمان امر انجنیر کل احمد ویاړ وویل، چې دغه پل به ۲۸۰ متره اوږدوالی او ۱۰ متره پلن والی ولري. هغه زیاته کړې، د پل له بشپړېدو وروسته به د هلمند سیند دواړه غاړې سره ونښلوي شي، د شمالي ولسوالیو د خلکو لپاره به خوندي او اسانه تګ راتګ برابر شي، روغتیایي مرکزونو ته د ناروغانو لاسرسی ښه شي، د کرنیزو محصولاتو لېږد به چټک او سوداګریز فعالیتونه به پراخ شي. د سیمې اوسېدونکو د پروژې هرکلی . . .

۲مخ

هرات کې د ۴ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه سړک د قیر کولو چارې پیل شوې

د هرات ښاروالي مسوولینو ویلي، چې د دې ښار د شپږمې ناحیې اړوند د عرفان ښارګوتي د وروستي سړک د قیرکولو چارې د ۴ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوي.د هرات ښاروال مولوي حمدالله نعماني باخترا‌طلاعاتي اژانس ته وویل، چې دغه سړک ۲۹۰ متره اوږدوالی او ۸ متره پلنوالی لري او چارې به یې په نړدې راتلونکي کې بشپړې او کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

نومورې زیاته کړې، چې د ښار د ښارواليۍ له اساسي پروګرامونو څخه دي او هڅه کېږي، چې د دغو پروژو په عملي کېدو سره ښاریانو ته لا زیاتې اسانتیاوې برابرې شي.

ورته مهال د عرفان ښارګوتي اوسېدونکو د یاد سړک د چارو په پیل خوښي څرګنده کړې او په راتلونکي کې یې د ورته نورو ټولګټو پروژو د پلي کولو غوښتنه کړې ده.

د کرنې او مالدارۍ مرستیال د ټیکا مؤسسې له چارواکو سره وکتل

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د کرنې او مالدارۍ مرستیال مولوي صدراعظم عثماني، په افغانستان کې د ترکیې د همکارۍ او همغږۍ اداري (تیکا) له رییس میکاییل تشدیمیر او د یادې اداري له یو شمېر مسئولینو سره وکتل او د کرنې په برخه کې د همکاریو د پراختیا په اړه يې خبرې وکړې.په دې کتنه کې مولوي صدراعظم عثماني د کرنې په سکتور کې د همکاریو د پراختیا پر اهمیت ټینګار وکړ، د پراختیایي پروګرامونو په پلي کولو کې يې د ټیکا مؤسسې د رول ستاینه وکړه او ویې ویل، چې ټیکا او د «آی.اچ.اچ» مؤسسې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې همکاري کړې ده او د کرنې وزارت غواړي، چې دغه همکارۍ لا پراخې او د هېواد په کچه کرنیز فعالیتونه نور هم زیات شي.له بلې خوا، د ټیکا مؤسسې . . .

۲مخ